# حيا له ایمان څخه ده

له عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم له يو سړي څخه واورېدل چې خپل يو ورور ته يې د حيا په اړه نصيحت کاوه، نو ورته يې وفرمايل: « حيا له ایمان څخه ده».

[صحيح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم له يو سړي څخه واورېدل چې خپل ورور ته يې نصيحت کاوه تر څو له (زياتې حيا) يعنې شرم کولو څخه ډډه وکړي! نو - رسول الله صلی الله علیه وسلم - ورته څرګنده کړه چې حيا له ايمان څخه ده، او دا چې پايله يې يوازې خير دی. او حيا داسې يو صفت دی چې - انسان - ښو کارونو ته اړباسي او له بدو څخه يې منع کوي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5478

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee